مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سراج الحق ببرک زی ځدران

۲۰۲۳/۰۸/۰۲

# د پي ټي ايم اروپا کنفرانس




په اروپا کې د پښتون ژغورني غورځنګ د ټاکنو کميسيون لخوا د اروپا په مختلفو هيوادونو کې د رنو ټاکنو وروسته پي ټي ايم په اروپا کې د لا منظم کيدلو لپاره د سپټمبر په لومړي او دويمه نېټه د جرمني په کولن ښار کې دوه ورځنۍ کنفرانس کوي .

په دې کنفرانس کې د پي ټي ايم اروپا د تنظيمي جوړښت تر څنګ د اروپا لپاره کوارډنيټر هم ټاکل کيږي او په لر او بر افغان وطن کې پر روان سياسي وضعيت بحث کيږي.

د کنفرانس په لومړۍ ورځ به د پي ټي ايم اروپا د مسوولينو داخلي تنظيمي جلسه وي.

د کنفرانس په دوهمه ورځ د منتخب کوارډنيټر د لوړې مراسم پر ځای کيږي او د ټاکنو کميسيون د يو کلن خدمت يادونه او ستاينه په پام کې نيول شوې ده.

دې مهم کنفرانس ته اروپا مېشتي افغانان، ملي اکاډيميک شخصيتونه او د نظر خاوندان رادعوت شوي دي او له محکومي پښتونخوا سره تړاو لرونکي بشري فعالان او د محکومو اقوامو استازي هم برخه اخلي .

په درنښت
په اروپا کې د پي ټي ايم د ټاکنو کميسيون


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنی د ليکنيزی بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ